شریعت
ورځپانه
SHARIAT DAILY
دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارگان

شپږم کال ٦٤ گڼه پرله پسې(٤٤٤)، یکشنبه د ٢٢ ١٤٢٢هـ ق دجمادی الثانی (١٤)
د ١٣٨٠ هـ ش کال دسنبلې (١١)د ٢٠٠١ میلادی کال دسپتمبر (٢)

په بدخشان کې
توپکیانو یو شمیر کورونه لوټ او ویجاړ کړل

بدخشان: دبدخشان ولایت په مربوطاتو کې دمخالفینو د قوماندانانو تر منځ د نښتو له امله د استوگنې څو کورونه ویجاړ شوي او مالونه یې د یاغي ډلو دافرادو لخوا لوټ کړای شویدي. دغه خبر له مخې چې له یو باوري خبر ځای څخه باختر اطلاعاتي آژانس ته رارسیدلی دی د یاغي ډلو قوماندانانو او دوسله والو افرادو تر منځ دخپل منځي مخالفتونو له امله په دې وروستیو وختو کې د بدخشان ولایت تاقچې پایان په سیمه کې دقوماندان شیر محمد او قوماندان حسن دافرادو تر منځ سخته نښته وشوه چې زمونږ دهیوادوالو داستوگنې دڅو کورونو د ویجاړولو او د هغوی دوسله والو افرادو لخوا ددغو کورونودمالونو د لوټیدو سبب شویدی. په خبر کې ویل شویدي چې ددغو نښتو له امله چې تراوسه پورې روانې دي د دغو قوماندانانو څو تنه افراد هم وژل شوي دي.

الهی فرمان

ترجمه: ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی که یو فاسق څه خبر درته راوړي نو پلټنه کوئ هسې نه چې کوم قوم ته په ناپوهي سره څه تکلیف ورسوئ او بیا په خپلو کړو پښیمانه شئ (الحجرات - ٦)

په ننگرهار کې دروان اقتصادي پرمختگ په بهیر کې:
دتیلو یوه ستره زیرمه جوړه شوه
دغه زیرمه د(١٣٠٠٠٠٠) لیتره تیلو ظرفیت لري

دریاست الوزراء اقتصادي مرستیال او دختیځ زون تنظیمیه رئیس محترم مولوي عبدالکبیر پرون دننگرهار د انحصاراتو دتیلو ستره زیرمه پرانستله دننگرهار ولایت دانحصاراتو داداري مسئول محترم مولوي محمد انور فاروقي په دې برخه کې د ننگرهارپه ولایت کې دباختر اطلاعاتي آژانس ٤مخ

دمهاجرینو دچارو معین دایران دهلال احمر له رئیس سره وکتل

هرات: دشهیدانو او مهاجرینو دچارو وزارت محترم معین نن دایران هیواد د هلال احمر له رئیس سره دهرات په ولایت کې وکتل. دباختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ. ددغې کتنې په ٤مخ

یوه فرهنگي پرمختیا

کابل باختر: دغزنې په ښار کې دبهلول دانا دمقبرې دتر میمولو کار پیل شو. دباختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ. دغزنې ولایت په مربوطاتو کې دمقبرو او دمقدسه اماکنو دتر میمولو او بیا جوړولو ٤مخ

٧٩٨ یمه گڼه رسمي جریده چاپ شوه

کابل: دافغانستان داسلامي امارت د ١٤٢٢ هجري قمري کال درسمي جریدې ٧٩٨ یمه گڼه نوې چاپ شوه دباختر ٤مخ

محترمه نورالهدامسؤل بخش زنانه مرکز فزیوتراپی:
طی دونیم ماه ٢٥٠ مریض تداوی گردیده است
درنظر است درنقاط مختلف شهر مراکز فزیوتراپی ایجاد نماییم

کابل - شریعت: ماتوجه سازمانها ومؤسسات خیریه جهانی را به منظور کمك به مردم نیازمند کشور خواهانیم. این مطلب را محترمه نورالهدا مسؤل بخش فزیوتراپی زنانه موسسه پارسابه خبرنگار ما گفته افزود: موسسه پارسا که منحیث یك موسسه بی طرف، غیر سیاسی وغیر دولتی بحیث هسته مرکزی ص۲

په خوست کې یو شمیر حافظانو او عالمانوته
دفضیلت پگړی وتړل شوې

دخوست ولایت ددیرې د سیمې د مظهر العلوم مدرسې د قران عظیم الشان دحافظانو او دڅو تنو علماؤ کرامو د فضلیت پگړی دیوې غونډې په ترځ کې وتړل شوی. دباختراطلاعاتي آژانس ٤مخ

ازسوی انجمن دکتوران افغانی مقیم امریکا:
به شفاخانه رابعه بلخی کمک صورت گرفت

کابل - شریعت: اخیراً انجمن دکتوران افغانی مقیم امریکا به شفاخانه رابعه بلخی کمک نقدی نموده است محترمه پوهنیار طبیبه ستانکزی رئیسه شفاخانه رابعه بلخی به خبرگارماگفت: ص٤

عکاسی یوسف
عکس : نمایی از شفاخانه رابعه بلخی

محترم جان آغا رئیس فابریکه افغان پامیر:
بخاطر خدمت بهتربه مردم مفتخر به اخذ تقدیر نامه گردیدیم

امارت اسلامی درتمام ابعاد کار خویش خصوصاً برای اعمار واحیای مجدد فابریکات،گامهای مثمری را برداشته است، تأمین فضای دورازجنگ وکشت وخون، چانس کار وفعالیت را درساحه زنده گی بالخصوص ساحه اقتصادی زیاد نموده است. تراژیدی دوران حکومت های قبلی که زاده ص۲

تاحال هیچ کس مسوولیت قتل کریمه مبین رابه عهده نگرفته است

پشاور-شریعت: انگیزه قتل دوکتورس کریمه مبین راشوهروی یک خصومت فامیلی قلمداد نمودخبرنگار ما به نقل از اظهارات طبیب محمدهاشم «وهاج» متصدی پست سریع ص٤

دلورزده کړو له روغتیایي کلینیک سره
ددرملو او طبي وسایلو مرسته وشوه

دوقا دخیریه موسسې لخوا دلورو زده کړو وزارت له روغتیایي کلینیک سره ددوه ځلوبښتو قلمو درملو او دطبي لوازمو مرسته وشوه. ٤مخ

مسابقات زیبایی اندام برگزارگردید

کابل: مسابقات زیبایی اندام میان ورزشکاران هشت کلپ درریاست عمومی استخبارات صورت گرفت. آژانس اطلاعاتی باختر خبرداد. مسابقات متذکره ازطرف بخش سپورت ریاست عمومی استخبارات به اشتراک ورزشکاران هشت کلپ در چهاروزن راه اندازی گردیده ص٤

سر پل ولایت ته د کډوالو دحالت دڅیړنې لپاره یو جاپانی هیأت رارسیدلی

سرپل: دسرپل والي محترم مولوي عبدالمنان حقیار پرون دخپل کار په دفتر کې په دغه ولایت کې دمهاجرینو دحالت په اړوند جاپاني هیات ته معلومات ورکړل. دباختر اطلاعاتي آژانس ٤مخ

امور اداری ولایت کندز موردبررسی قرارگرفت

کندز: محترم محمدعمرخان والی کندز دیروز دردفتر کارش با ص٤

کشف سلاح ازمربوطات ولایت هرات

هرات: یک مقدار سلاح از مربوطات ولسوالی انجیل ولایت هرات کشف وبدست آمد. آژانس اطلاعاتی ص۴

د ایران یوه لوی مذهبی مشر د تولنې په نظم ونسق را وستلو کې
د سعودي عربستان او د افغانستان دطالبانو له خوا شرعي سزا ورکول وستایل

بهرنۍ خبرې سرچینې: د ایران اصلاح پلوه ولس مشر خاتمي د سخت دریځه مذهبي مشرانو سره په دې موضوع غربیزې چې په دې وروستیو وختو کې دوی په تهران کې او ځینو نورو ښارونو کې په ډاگه ددوو وهلو او نورو ٤مخ

د توکم پالنې په اړه نړیوال کنفرانس کې:
صهیونیستي اعمال وغندل شول

بهرنۍ خبرې سرچینې: د توکم پالنې په اړه نړیوال کنفرانس چې جنوبي افریقا د دوربان په ښار کې جوړ شوی د ښکیلاکي د غلامۍ د تاوان د ورکولو پر سر لا له مخې اختلافات را برسیره ٤مخ

په کشتۍ کې دایساروافغانانو برخلیک یوڅه روښانه شو

بهرنۍ خبرې سرچینې: دملگرو ملتونو عمومي منشي کوفي عنان په یوه داسې پلان دسمبدستې پلی کیدوغوښتنه کړیده د چې څه دپناه غوښتونکو لانجه غوڅه کړي چې داسترالیا ٤مخ

سرمقاله
دلوی او بښونکی خدا «ج» په نامه

امنیت شورا دې دبې امنیتی سببونه نه رامنځ ته کوي

له کله نه چې د ملگرو ملتو سر منشي کوفي عنان امنیت شورا ته لومړي ځل د آریانا افغان هوایی شرکت په هکله ددغې شورا له بند نه د خلاصیدو په اړه وړاندیز وکړ او دوهم ځل یې دافغانستان دقضیې په هکله یوه نوې طرحه ورځخه و غوښته نو کتونکي، دنظر خاوندان او په قضیه کې مطرح قوتونه په دې هیله ؤ چې بیایي ۲مخ

دشهید خوانې
خبرولې
٣مخ
یاد
لاس نیوی
جهان امروز و تهدید یهودیت ص۲

شـــریعت

دتاسیس کال :۱۳۷۴ هـ ش

:دلیکوال هیئت ترنظرلاندی

مسؤول مدیر: مولوی اسدالله «حیدری»

مـــرستیال: ملامحمد ابراهیم «نبیل»

دیوی گڼې بیه:په هیوادکی(۱۰۰۰)افغانی په پاکستان کی (۳)کلداری

تیلفون :۲۱۳۸۱ توزیع او شکایات:۶۲۸۵۹

پست بکس : (٤۷۱)کابل افغانستان

جاري حساب : ٤۰۳۸۵ دافغانستان بانك مرکز

دیزاین : احمدجاوید «فقیری» چاپ : امارتی مطبعه

دسرمقالی پاتی برخه

امنیت شـورا به داخل له مـوقع څـخـه په استفادی سره خپل مسئولیت ادا او په داسی څه لاس پوری کړی چی واقعاً د ولسـ د کړا وونو د درد دوا شی او ویشلی پر گنی به نور له نړیوالو ستونزو نه د امنیت شورا له برکته پـه امـــن کی شی ‌ .

امنیت شـــورا چی تر اوســـه یی ددغـــو وړاندیزونو په هکله څه نه ؤ ویلی دا دی بیا را غبرگه شوه او د متوقع عامه نظرونو په خلاف یی هماغه تکراری او ژوول شوې خبرې یو ځل بیارا بر سیره کړې او له نا چاری نه چی خا مخا په دې حساسه زمانی مقطع کی باید څه وو ایی : په هیواد کی یی داسامه بن لادن شـــتــــه والی او ددوی په اصطلاح د تـــروریـــستی دلـــو د اوسیدو پلمې را تکرار کړې .

که څه هم اسلامی امارت ددغو ټولو بی بنیاده تورونو په وړاندی خپله سپیڅلتیا ساتلې او دپلی تگلارې په اړه یی خپل اصولی دریځ په خپل وخت څرگند کړی خو امنیت شو را له دې هر څه سترگې پټې کړې او داسې بې اساسه ، بې هدفه او بې منزله لار بې په مخ کې نیولې چې له یوې خوابه هم څه کوچ ترې تر لاسه نکړی .

دافغانستان د قضیې په هکله ددغی شورا دغه راز کړنې او یو اصولی دریځ نه لرل هغه څه دی چې له ورایه ورڅخه ددغې شورا نه استقلا لیت او بې بنیاده حیثیت تر سترگو کیږی او ښکاری چی دغه شورا دهغو دوو زبر ځواکونو په لومو کی راښکیل شوې چی دخپلو جهان طلبو ارادو لپـاره دمظلومو ولسونو دوینو زبیښاک یی دغه ارادی لاپسی قوی کوی ددغو پیښو او نارواؤ دبد و پایلو او نتیجو مسئولیت هم څوک ددغی شورا له غاړی نه شی اخیستی او دټولو هغو تر اژیدیو مسئولیت به چی دورته تگلارو په نتیجه کی را منځ تـــه کیږی خا مخا دامنیت شورا پـــه غـــاړه وی .

که امنیت شورا دآریـــانـــا افغان هوایی شرکت وړاندیزونه او غوښتنی په دیر غـــرور اوتـــکبـــر ردوی دهغـــو پیښو مسئولیت دې هم په ورین تندی ومنی چی دهیـــواد په فـــضـــا بـــه مـــجـــبورا دعبـــوری الوتنو دبندیز په ترڅ کی را منـــځ تـــه کیـــږی .

جهان امروز وتهدید یهودیت

سید عبدالمقدم «امین»

یهـــودیان به این نظر هستند که همه اقشار غیر یهودی را به غلامی خویش در آورند و فـرمـان روای جهان باشند بزرگان یهود چندین بار به طور مخفی دور هم جمع شدند و اصول را جـــهت بر پانمودن یك انقـلاب سر تاسری براه انداختند فعالیت های خود را تحت پروگرام های طرح ریزی نموده بویژه در اوائل قرن ۱۹ سران یهودیان بدین نتیجه رسیدند که باید فعالیت های خود را بخاطر از بین بردن خلافت عثمانی در ترکیه و تشکیل دولت اسرائیل آغاز نمایند ، و نیز تشکیل سازمان ملل متحد مطابق همین نقشه صورت گرفته است ، تشکیل این اداره بـه اصطلاح جهانی جهت تحقق مقاصد یهودیان ، و نیز هم مرکز این اداره اله کـــــار صهونیست است و سازمان های مخفی در ابعاد مختلف برای مقاصد یهودیت عملاً دست بکار هستند ، طرز و شیوه کار یهودیت طور عیارساخته شده است که شناخت آن به سادگی کار آسان نیست باید قبول کردکه قوت هاي استکباری امروزی وگذشته تحت اثر یهوداند تنها قوت اسلام استکهبا وجود ضربه خوردن های پیهم در برابر این دشمنان اسلام و بشریت قراد دارد . مجلس های سران یهود داشتند فیصله نمودند که چون سد بزرگ در سـبـر تکمیل خواهشات آنها جهان اسلام است بناءً تصمیم گرفتنداولـ لتر باید انقلاب را در روسیه آغاز و بعداً ضربه قوی بر پیکر خلافت عثمانی در ترکیه وارد سازند به شیوه های مختلف وارد عمل شدند تا سلطان عبدالحمید را متقاعدسا زندکه در بدل پول گزاف حصه از خاك فلسطین را به آنها واگزارند ، این خلیفه مسلمین پلان شوم یهودیت را درك کرده و در خواست آنهارا به شدت تام رد نمود . بعداً یهودیان تبلیغات شوم و زهر اگین را علیه سلطان در داخل و خارج قلمرو خلافت آغاز کردند که هدف آنها پارچه پارچه شدن خلافت بود عیسوی مذهب ها نیز با یهودیان هم صدا شده و یك قوت نظامی و تبلیغاتی را تشکیل دادند که در نتیجه مرکز یت جهان اسلام را از میان برداشتند و در ترکیه نظام جدیدی را بوجود آوردند که آنرا بنام (انجمن اتحاد ترکیه) یاد نمودند و تعداد بیشتر این سازمان را جوانان کم تجربه ترك تشکیل میداد ، در قلب این جوانان آتش نفرت به ضد عرب ها را انقدر دامن زدند که رفته رفته بنیاد خلافت اسلامی بدست همـین نوجوانان احساساتی و کم تجربه بر هم و در هم زده شد و این اولین ضربه یهودیت بر پیکر عالم اسلام بود ، بناءً روی همین نقشه باگذشتن چند سال به قسمت از فلسطین حاکم شدند چون تحریك های اسلامی در برابر شان قرار داشت نتوانستند در آنوقت به سادگی حکومت بسازند اما زمان که اسلام مرکز یت خودرا از دست داد مسلمانان به عنوان یك قدرت و نیروی جهـانی بی اثر ماندند مشکلات متعددی دامنگیر جهان اسلام گردید و حدت و یك پارچگی که اساس و رمز پیـروزی است از اسـلام فاصله گرفت بناءً گفته میتوانیم که در جهان امروز یعنی در عصر حاضر عنصر خطرناك و مؤثر تر از همه قوم یهود است . قبلاً یادآورشدم که قومهای استکباری تحت اثر نام یهود اند عملاً دیده شد که اسرائل در آغوش امریکا تولد شده ولی از همه اولتر توسط روس ها به رسمیت شناخته شد ، روس ها هم فکر کردند که نمیتوان به تنهائی کار مؤثر بر ضد اسلام انجام داد بناءً در برابر اسـلام هر دو متحد و هدف مشترك را دنبال میکنند . پلان یهود را مشاهده کنید ، آنها اتحاد و قومیت عرب را ایجاد کـردند این اتحـاد چه اثر خواهد داشت نقص ظاهری آن اینست که از جمله هفت صد ملیون مسلمان هفتاد ملیون عرب جدا میگردد و شعار قومیت عرب را یهودیان و عیـسویان و مزدوران آنها بخاطر سر میدهند که تا مسلمان به شکل از اشکال از بنیاد اصل خویش یعنی اسلام بدور بروند جالب این است که معیار قومیت عرب را لسان عربی قرار دادند بدین ترتیب یهودیان و عیسویان شامل قومیت عرب شده میتوانند ، این پلان ها عملاً دیده شد که صفوف مسلمین را چگونه از هم پاشیده است و حالت مسلمانان در جهان امروز چگونه است ، در این شك نیست که سازمان کنفرانس اسلامی از این برنامه ها متأثر است کشور های عربی تحت همین اندیشه قرار گرفتند عملاً دیده میشود جهان عرب موقف سابق برای حل مشکل جهان اسلام ندارند ، روزانه دها تن مسلما ن به عناوین مختلف در گوشه و کنار جهان از بین می روند حالت مسلمان باگذشت هر روز درشرق میانه، کشمیرو چیچین روبه و خامت است گویا هیچ مسئولیت را در قبال این وضع کنفرانس کشور های اسلامی و جهان عرب ندارند امروز کفر جهانی بخاطر نابودی مسلمین بطریقه های مخفی عمل میکند رسانه های خبری دنیا بدوش یهودیان و عیسویان است و بوسیله همین ارتباط جمعی خبر ها را چنین رنگ میدهند که از آنها فتنه های بزرگ در کشور های اسلامی بر پامیشود .

بناءً هر فرد مسلمان مسئولیت دارد تا تلاش نماید حقیقت را درك نموده و مسئولیت های خویش را در پرتو شریعت اسلامی انجام دهـــــد .

طی دونیم ماه ۲۵۰ مریض...

کمك های بشری به مصیبت رسیدهـ گـان ونیـاز مندان خدمـات طبی وکمك های بشردوستانه خودرا مینماید از مدت دونیم ماه بدینسو شعبه فزیوتراپی را بخاطر انجام خدمت به خواهران نیازمند ما درطبقه همکف بانك مرکزی خون ایجاد نموده که دراین مرکز نه نفر از پرسونل فنی واداری اجرای وظیفه مینماید .

محترمه نورالهدافزودند:

روزانه چل تن مـریض به این مرکز مراجعه میکندچون فزیوتراپی یك بخش عـمـده از تداوی طبی بخصوص ارتوپیدی میباشد واز جانبی اکثرمریضان بعدازتداوی زیاد نزدمامراجعه کرده ومشکلات شان بطورکلی رفع نمی باشد بناً کار دراین مرکز از ساعت هشت صبح آغاز ویدون احساس خستگی ساعت چهار وسی دقیقه ختم میگردد گفته میتوانیم که درمدت دونیم ماهتقریباً دوصدوپنجاه مریض تداوی شده است مـثـلاً یکتن از خواهران ما که اضافه از ده سال تکلیف کمرداشت وتوسط سایکل به مرکز فزیوتراپی پارسا مراجعه میکرد به یاری خداوند «ج» وکمك همکاران درمدت دوازده روز صحت یاب گردیده ویدون کدام وسیله دوباره به راه رفتن آغاز وراهی منزل گردید محترمه نورالهدا درمورد پلان های بعدی مرکز چنین گفت:

مـا تصمیم داریم درآینده مراکز فزیوتراپی را درسایر نقاط شهر ایجاد نمایم تا مصدر خدمت بهتر و بیشتر به مردم خنویش گردیم همچنان از تمام مراجعین توقع داریم که همیشه تمریناتی راکه از طرف فزیوتراپیست برایشان توصیه میشود به صورت منظم ادامه دهند تاهرچه زودتر مشکلات مریضی شان رفع گردد.

درانـی

بخاطر خدمت بهتربه مردم . . .

مداخلات تجاوز کارانه روسها و ایادی داخلی شان بود تمام امکانات را از ما دور ساخته بود ، فـابریکات را به مخروبه ها مبدل ساخته ، ماشین آلات به قسم «کباړ» از یك دست بدست دیگر تبادله میگردید اماامارت اسلامی بافتح هرمنطقه نخستین کاری را که بدان عطف توجه نموده است بعداز اقامه نظام عدل شریعت اسلامی وتامین امنیت ،احیای مراکز اقتصادی و فابریکات تولیدی میباشد زیراصرف از همیـن راه میتوان زنده گی مرفه برای مردم مهیا کرد وبس .

احیای فابریکات تولیدی سکتورخصوصی واسارتی درکشور ومشخص ساختن اهداف والای آن یگانه آرزوی امارت اسلامیست که با امکانات خیلی ناچیز خود درمدت کم کارهای بس بزرگی راانجام داده است که افتتاح فابریکات جدید واحیای زیاد ترین فابریکات درکشور شاهدمدعای ماست ازآن جمله یکی هم فابریکه پلاستیك سازی افغان پامیر است که تولیدات آن تحت نام (چیتا) شهرت بسیارعالی دارد .

محترم جان آغاز رئیس فابریکه درمورد فابریکه وتولیدات آن به خبرنگار ما چنین گفت :

فابریکه پلاستیك سازی افغان پامیر از مدت دوسال وشش ماه بدینسو درساحه پارکهای صنعتی کابل فعالیت خویش را آغاز نموده که علامت تولیدات فابریکه تحت سمبول«چیتا» در بازار عرضه میگردد جای بس افـتـخـار است کـه اکثرفابریکات پلاستیك سازی از نام وسمبول مشابه فابریکه استفاده میکنند واین گـواه آن است کـه تولیدات فابریکه افغان پامیر درسطح کشور جای بس بلندی را احراز نموده است چنانچه درسال ۱٤۲۱ تقدیر نامه شماره ۲٤۲ از طرف اداره تشویق وسرمایه گذاری های خصوصی اداره امـور بخـاطر بلند بودن کیفیت وجنسیت تولیدی فابریکه برای ما تفویض گردید .

محترم رئیس فابریکه افزود :

تولیدات ما درسطح کشور بالاترین معیار های تولیدی را دارا میباشد وصادر تلاش آن هستیم تا درسطح بین‌المللی نیز از خود ابتکاراتی راانجام دهیم تاتولیدات ما دریك رقابت سالم با تولیدات سایر کشور های خارجی نیز قرار گیرد چنانچه همین حالا پاپوشهایی که درفابریکه افغان پامیر تولید میگردد. دراکثر ولایات کشور چون کندهار،هرات، خوست،جلال آبادوهلمندبه فروش میرسد ودر بازار های داخلی جای تولیدات خارجی را گرفته است .

محترم رئیس فابریکه درمورد دستیابی موادخام فابریکه واینکه روزانه چه تعداد پاپوش تولیدات دارند چنین گفت:

درفابریکه افغان پامیر پلاســتــیك روزانه یکهزارودوصد جوره پاپوش به رنگ های مختلف وسایزهای مختلف تولید میگردد شصت فیصد موادخام فابریکه از خارج وارد گردیده و متباقی از داخل دستیاب میگردد ، شایان ذکر است که اکثراً مواد خام پلاستیکی از طریق راه های عبوری ولایت غزنی به خارج از کشور برده میشود اگر جلو قاچاق آن گرفته شود گفته میتوانیم ، تولیدات فابریکات پلاستیك سازی درداخل کشور از نگاه کیفیت بالاتر وازنگاه قیمت ارزانتراز تولیدات خارجی به مردم عرضه خواهد شد .

دشعر او ادب نړۍ

چې کـشور دافـغـانانو معطر کا
دهربېت مصرع مې زلفې دخوبان کړي

خـوبـولـي

نوراني

ته باور وکړه زه در غـلي وم تـه نـه ښکارېدې
ستا دکوڅې ته درېدلي وم ته نه ښکارېدې
چا مې زخمونو ته بوڅاڅکي غـوړي هم رانکړل
ستا دکوڅې سپېو داړلي وم تـه نـه ښـکارېدې
لکه بـوڅوک د زوورو تربور له جنګه راشي
جانانه داسې شـوکېدلي وم ته نه ښکارېدې
سې وچکلي کړل نـه خلـکو او بو تپو س کړو
زه په خولو کې لمبېدلـي وم ته نـه ښـکارېدې
وروسته له ډېره انـتظار مې سترګې پټې کړلې
بس په ولاړې خوبولي وم تـه نـه ښـکارېدې
په ګرېوانه مې د رڼو اوښکو لښـتي روان وو
«نوراني» داسې ژړېدلي وم ته نه ښکارېدې

غرض ته!

عبداللطیف «منت یار»

ته اوردوه دیلدېزونو لاره
زه شنهوم دغرضونو لاره
تا ته دا درامـه خوند درکوي
تا ته هبدغه لوبه ژوند درکوي
ته خوبوي د هوسونو لاره
زه شنهوم دغرضونو لاره
زه مسلمان یم په اسلام مین یم
په کور او کلي او خپل قام مین یم
داده زما د امېډونو لاره
زه شنهوم دغرضونو لاره
دا ستګیار په سر ګزار کومه
دین ته خدمت زه «منت یار» کومه
رڼا کوم د تورتمونو لاره
زه شنهوم دغرضونو لاره

یـــاد

حمید

شبهای هـجر درغم او ګریه سرکنم
شب را چو شمع بقیمت عمر سحر کنم
الطاف ومـهرو مـرحمتش آورم بیاد
اندر خـیال وصـل بـکوش سفر کنم
از درد دوریش سـخني نـاورم بـلب
لیکن چو پیـرهـن غـم اورا بـسرکنم
ګرتنګدل شوم نکنم شکوه پیـش غیر
ترسم رقیب زحمن نکویش خبر کنم
مستانه سرکنم بـهوایـش نـواز دل
شـایـد ازینـطریق بـدل او اثر کنم
ګر در فـراق روش شـده روزمن سیه
دارم امـید بـروی چـوماهش نظر کنم
هرجا که یاد روی نکویش کنند حمید
چـون شمـع اشك شوق بدامان سرکنم

دشهیدخواني

نورشاه

وروور کـه لاروې یـم د ژوند لاره لندوم
په عشق کې افراط کوم سرترداره لندوم
خداې مه کړه په هارونه به دې ونګنیم په خپله
ګیډې څېي به باره ستا لپاره لندوم
د ګلو پستو غیږو ته چې رسي خداې خیر
اغبار وایي لاسونه له بهاره لندوم
زما دشهید بار خواني خوته لا بادوي
ضرور به دې د کلي لور سپیداره لندوم
چې نه اوري ناري د مظلوم او بېچاره
غوږونه به د وخت له هرسالاره لندوم
زما معبوب جانان «نوراني» دوې امساوي غوارې
بو څپرته به ښې څانګې له چنباره لندوم

لاس نیـوی

محمد نذیر «زاهد»

شاعر یم ما اخـستي دي له پاره لاس نیوي
ول ول د توررو زلفو لـه هرتاره لاس نیوي
سندري چې راځي هر بوغزل مې سنـدریز
اخـستي مې له هغه سندرماره لاس نـیوي
د ستوري په شان ورو سپیني سپږمۍ ته شوم نېدې
له شپې نه ما اخـستي ترسهاره لاس نیوي
په پورته یم روان «نوراني» تاته واپسم زه
ماواخیست له «کاروانه» له «پیکاره» لاس نـیوي
«زاهد» یم د بري میدان به وي زما پرخوا
نیولي ما له مور نه له خپل پلاره لاس نیوي

غـــزل

صالح محمد «صالح» کندهار

سـترګـو نـه خوبونه اوبو وړي دي
ژونـد نه امـیدونـه اوبـو وړي دي
غل مـي چـي د زړه پر پلاز روغښد
چـم نه مـي لالونه اوبـو وړي دي
اوس بـه چیـري لولو دجنون کبیي
خـبري ګـربوانـونـه اوبـو وړي دي
ستوري زاره چـاودي شـول رڼا پسي
تـه وا چـي لمرونه اوبـو وړي دي
درد مـي لکه ساه وجود کي ځي راځي
زه اکه مـي زخـمـونه اوبـو وړي دي
عـمر تـېروو د حـباب سپوري تـه
زمـوږ نـه خـو کورونه اوبـو وړي دي

دادب یو څو میړنی دهیواد په خپلواکۍ کې

محـمـد رفـیق «عـزت»

زموږګران هیواد دافغانستان دوېنو او سرونو په بدل کی خپلواک پاتې شوی او د هېچاغلامی ته یې خپله څکه غاړه نده ښته کړی .

نو پدی اړه زموږ ادب پوهانو او دقلم خاوندانو شعرونه لنډی او دیری نوری ښایسته ادبی لیکنی کړیدی چی دنیکونو غیرتی حماسی یې په کی رانغښتی او ژوندی یې ساتلی موږیې هم بوځوېیلګی تر بوڅغلند نظر تیرو و لکه چی وایی .

لاتراوسه یې ما غزه په قرارنه دی — چاچی ما سره وهلی سرپه سنګ دی

که پورتنی مصری ته ښه په غور سره وګورو دابه راته څرګنده شی چی زموږ میړنیو او په هیواد مینونیکو نو موږ ته څومره له غیرته ډک تاریخ پرېښی دی بیا زموږ شاعرانو څومره په کمال سره ددوی دغه کار نامی په ښایسته جملو کی رانغښتی او تل تر تله یی ژوند ی ساتلی دی . بیاهم زموږ دتوری او دقلم خاوند یعنی خوشحال «ختک» دخپل ننګ او افغانیت کارنامی په پښتنی ادبی اسمان کی دمغرورو ستوروپه څیرځلوی .

دافغان په ننګ مې وتړله توره — ننګیالی دګزمانې خوشحال «ختک» یم

خوداهم باید ووایوچی زموږ دهیواد دخپلواکی په لارکی نه یوازی چی سریو ونده اخستی ده بلکی پیغلو او میرمنو هم په خپلو وباړلوکارناموزموږ غیرتی تاریخ اوادب لارنګین کړی دی دبیلګی په ډول دملالی دغه دوی لنډی چی زموږ په کلاسیک ادبی بهیرکی ډیرا رزښت لری ترنظرتیرو و .

خـال به دیـار دوینـو کـیږدم — چی شنکی باغ کی ګل ګلاب وشرموینه

کـه پـه میوند کـی شهیدنه شوی — خدایږو لا یمه بی ننګی ته دی ساتینه

خو کله چی مجاهد ینو دخپلو وینو او سرو په بدل کی له انګریزانو خپلواکی وګټله او دهغوی بو غټ پوځ یی دمرګ کندی ته ولیږداوه بوتن چې اکتیربرابدن نا امید په تیښته خلاص شو .

خو شیرلیکزی په تیریدو وی چی دیری بو بل زبرځواک دوخت شوروی اتحاد په افغانستان تیری وکړ زموږ زړورومجاهدوخلبو او پیغلو داسی ورته وویل :

چی حنیفه «زاهد» ... غه خبره زموږ په ادبی تاریخ کی تراوسه ژوندی اورنګینه ساتلی ده .

په خوارو شرګو راته مه ګوره درنه پاتی یم — زدافغان غیرت توره یم تیره پاتی یم

چی ریښتیاهم داسی تیره پاتی وه لکه څنګه چی یی انګریزانو ته خواب ورکړی ؤ داسی یی روسانو ته هم وویل او روسان یی تیښتی ته مجبورکړل چی ګوداومات زموږ له غیرتی هیواد ه ووتل .

خودتیښتی په محال زموږ زړورو زلمو داسی پسی ورغبرګړچی دتوپک اوقلم خاونددرمحمد «ګوهری» دقلم په ژبه دغه خبره داسی دکلمه کړه .

زه دغه غازی یم چی روسان می څغلولی دی — محکی له روسانو انګریزان می څغلولی

خو زموږ میړنیو غازیانو کابل ته دیری زیری هم ورکړچی خوان شاعر عبدالغفورلیوال په خپله هنری ژبه دغه خبره داسی ښایسته کړه

بیادجاده حسن سپینو ورانګو دی رواوستی — دمینی دکابل په اسمان بی باندی برق

اعلانات

فابریکه دیگ بخارسازی محمد فاروق کابلی به یك مقدارزیادشمش المونیمی والمونیم داغمه ضرورت دارد اشخاص وموسساتیکه خواهش رسانیدن آنراداشته باشند به نماینده گی فابریکه واقع غرب مسجد پل خشتی ویا به تیلفون نمبر ۲۰۲۷۵ درتماس شده حل مطلب نمایند

***

غلام نبی فرزند غلام سخی نوی رنجبر درملتون کابل ملکیت خویشرا با تمام امتیازات وملحقات بالای عبدالقیوم فرزند عبدالعزیز بفروش میرساند .

اشخاص وموسساتیکه درمورد درملتون مذکور ادعاداشته باشند از تاریخ ۱۴۲۲/۶/۱۳ تاده روز بریاست قوانین صحی وبروسی وزارت صحت عامه کتباً اطلاع دهند.

***

دخصوصی ترانسپورت ریاست خپل یو باب هوتل او دهغه ترځنګ یو باب خوراکه فروشی دکان په کرایه ورکوی .

که څوک دکرایه اخستلوخیال ولری د/ ۱۴۲۲ ۶/۱۳ نه ترلسوورځو پوری خپل درخواستی دخصوصی ترانسپورت ریاست ته چی دمرکزی سیلو ترڅنګ موقعیت لری وسپاری.

***

سید عزیزالله فرزند سید حفیظ الله یك باب دوکان ملکیت بانك رهنی وتعمیراتی واقع سینماپامیر را ماهانه مبلغ یك میلون و دوصد هزار افغانی برای مدت یکسال قبولدارگردیده مزایده کننده گان درخواست های خویشرا بمدیریت تعمیرات بانك رهنی وتعمیراتی بسپارند وخودشان از تاریخ /۱۴۲۲ ۶/۱۳ تاده روز مراجعه نمایند تضمین اخذ میگردد.

***

وزارت مخابرات امارت اسلامی افغانستان ده پایه دستگاه بی سیم مطابق مشخصات ترتیب شده ضرورت دارد.

موسسات داخلی وکمپنی های خارجی اگرافرداده میتوانند افرهای خویشرا رسانیده وبیمه الی کابل با مدت اعتبار چارماه ترتیب داده الی تاریخ ۱۴ /۱۴۲۲ ۸/۱۴ که اخرین روز پذیرش افرداوطلبی میباشد عنوانی مدیریت عمومی تهیه وتدارکات خارجی وزارت مخابرات و پاپست بکس ۱۰۷۲ ارسال بدارند مشخصات تخنیکی رامـلاحظه کرده میتوانند تامینات اخذ میگردد.

***

ریاست لوژستیك ریاست عمومی استخبارات یك باب دواخانه معه معاینه خانه آن جوار سرك بادام باغ مقابل بلاك ۸ تهیه مسکن ملکیت خویشرا برای مدت یکسال به اجاره میدهد .

اشخاص وموسساتیکه خواهش اجاره گرفتن آنراداشته باشند درخواست های خویشرا بمدیریت قراردادهای ریاست لوژستیك استخبارات مقابل ولایت کابل بسپارند وخودشان از تاریخ ۱۴۲۲/۶/۱۳ تاده روز مراجعه نمایند لست مشخصات را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد.

***

رحیم شاه فرزند محب شاه سنگ رخام معدن منطقه وادی ولایت هلمند را از قراربلاك فی تن دو هزار هشتصد وهفتادو پنج کلدار پاکستانی و بولدررافی تن ۷۱۸.۷۵ کلدار پاکستانی برای مدت یکسال قرارداد مینماید .

مزایده کننده گان درخواست های خویشرا بریاست تصدی استخراج معدن بسپارند وخودشان از تاریخ /۱۴۲۲ ۶/۱۱ تاده روز مراجعه نماید شرطنامه راملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد.

***

امان الله فرزند حاجی نذیر نماینده شرکت امان الله عمرزاده مقدار دوصدو نود وهفت هزارو پنجاه وچار کیلو گرام چوب سوخت بلوط مورد ضرورت وزارت معارف رافی کیلو مبلغ دوهزارو هفتصدو پنجاه افغانی که جمعاً مبلغ هشتصدو شانزده میلون وهشتصدونود هشت هزار وپنجصد افغانی قرارداد مینماید.

مناقصه کننده گان درخواست های خویشرا بمدیریت خدمات وزارت معارف بسپارند وخودشان از تاریخ /۱۴۲۲ ۶/۱۳ تاده روز مراجعه نمایند شرطنامه ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد.

***

نجیب الله خشکه شوی شستشوی یازده قلم البسه باب اطفال دارالایتام راکمتراز نرخ بازار مبلغ دوصدوپنجاه میلون افغانی درسال ۱۴۲۲ قراردادمینماید .

مناقصه کننده گان درخواست های خویشرا بمدیریت خدمات ریاست عمومی دارالایتام واقع تهیه مسکن بسپارند وخودشان از تاریخ /۱۴۲۲ ۶/۱۳ تارده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تامینات اخذ میگردد.

***

هوتل انترکانتیننتال یك عراده موتر کرولا غرفه دارمودل ۱۹۹۴ شاسی نمبر۳۴ .۲۱ .۹۰ .۱۰انجن.۲۵ ۲۸۰۴۱۲ برنگ سفید را از موترفروشی حاجی محمد شریفی به قیمت یکصدو هشتادو هشت میلون افغانی نرخ گرفته است.

مناقصه کننده گان درخواست های خویشرا به هوتل انترکانتیننتال درباغ بالا بسپارند وخودشان از تاریخ ۱۴۲۲/۶/۱۳ تاده روز مراجعه نمایند .

دتېلو پوسترو ...

خبریال سره د مرکې په ترڅ کې وویل د ننګرهار ولایت دانحصاراتو دتېلو زېرمه په ۱۳۳۳ هجري لمریز کال کې جوړه شوه وه او په تېرو نهو کلونو کې غیر فعاله وه او له استفادې څخه وتلې وه . چې د چارو د مسئولینو دپاملرنې له امله دڅه دپاسه دوه زره پنځه سوه لکو افغانیو په لګښت بیا جوړه او فعاله شوېده .

ده زیاته کړه په دې زېرمه کې اتلس فرعي یا ټانکي زېرمې شته چې په مجموعي ډول دېوسلو دېرشو زرو لیترو تېلو ظرفیت لري چې لس فرعي زېرمې یې د ډیزلو دتېلو اته نورې زېرمې یې دپطرولو لپاره اختصاص کړای شوېدي .

په هغې غونډه کې چې له همدې امله برابره شوې وه لومړی دننګرهار ولایت امنیه قوماندان محترم مولوي نورالحق خپله پرانستونکې وینا واوروله او وروسته درياست الورزا محترم اقتصادي مرستیال د هراړخیزو خبرو په ترڅ کې په هیواد کې دپولګیوټاسیساتو دبیا جوړولو او فعالولو او دآزادې سوداګرۍ او په بېلابېلو برخو کې د پانګې اچونې داهمیت او ارزښت په باب څرګندونې وکړې

دمهاجرینو دچارو ...

پیل کې دشهیدانو او دمهاجرینو دچارو وزارت معین محترم رحمت الله و احدیا ردهرات ولایت په اړوند وکمپونو کې له میشتو مهاجرینو سره بېړنیو بشري مرستو په زیاتوالي باندې ټینګار وکړ او وې ویل یو زیات شمیر مهاجرین دهغو وروستیو وچکالیو له امله چې دهرات ولایت دمهاجرینو په کمپونو کې ځای پر ځای شویدي هغوی ته داسانتیا وو دبرابرولو او دکړاوونو د له منځه وړلو په خاطر مرستي شویدي او موږ دنړیوالو ټولنو او له ګاونډیو هیوادنو څخه هیله لرو چې په دې ستونزه کې زموږ له خلکو سره مرسته وکړي .

وروسته دایران هیواد دهلال احمر رئیس محترم حسن قدمي دهرات ولایت له مهاجرینو سره په مرسته کې دایران هیواد دهلال احمر تیاري څرګند کړ .

مسابقات زیبایي ...

کلپ سپورتی استخبارات حایز مقام اول گردیدند درختم مسابقات جوایز ومدالها ازطرف مدیریت سپورت آن ریاست برای ورزشکاران ممتاز توزیع گردید .

۷۹۸ یمه ګڼه ...

اطلاعاتي آژانس خبر راکړ دافغانستان داسلامي امارت دعدلیې وزارت خپله ټوله پاملرنه دې ټکي ته اړولې ده چې په ټولنه کې شرعي او قانوني نظم ټینګ کړي او په هیواد کې دبې نظمیو اوخپل سریو تغرټول کړي .

دعدلیې وزیر محترم ملا نورالدین ترابي دباختر د اطلاعاتي آژانس له خبریال سره دمرکې په ترڅ کې وویل په هیواد کې داسلامي نظام ټینګښت په بشپړه توګه په هیواد کې دشرعي قوانینو دنافذولو غوښتنه کوي او الحمدالله تراوسه پورې په دې برېالي شوي یوچې دیو شمیر مهمو او ضروري قوانینو اومقررود تسوید اوچاپولو په برخه کې پراخ فعالیت ترسره کړو .

بوه فرهنګي ...

په لړ کې په بهلول دانا مشهور دامام محمد زاهد دمقبرې دترمیمولو کار پیل شو .

په هغې غونډې کې چې له همدې امله دغزني ولایت دځینو امارتي چارواکو او دغزني ښاریانو په ګډون دغې مقبرې ته څېرمه برابره شوې وه دغزني ولایت داطلاعاتو او کلتور رئیس محترم مفتي لطیف الله حکیمي دبهلول دانا دعلمي او ټولنیز شخصیت په باب او دغه راز دتاریخي ابداتو دساتنې او تر میمولو په اړوند څرګندونې وکړې اوپه دې برخه کې یې دخلکو د همکارۍ غوښتنه وکړه .

ددغې مقبرې تر میمولو کار دغزني ولایت داطلاعاتو او کلتور ریاست لخوا تر سره کیږي .

دفضیلت پګړي ...

خبر راکړ .

په هغې غونډه کې چې له همدې امله برابره شوې وه دخوست په ولایت کې دامارتي ادارو چارواکو دپکتیکا والي محترم مولوي عبدالرؤف خدام د میدان وردګ والي محترم مولوي شمس الدین دلوګر ولایت مرستیال محترم مولوي محمد سرور حق پرست دپکتیکا ولایت مرستیال محترم مولوي حضرت محمد حقاني دکابل دلسمې فرقې قوماندان محترم مولوي عبدالفتاح ، محترم شیخ الدین محترم شیخ الحدیث حمدالله جان ، محترم شیخ الحدیث بهرمند ، محترم شیخ الحدیث عبدالستار ، محترم شیخ الحدیث سمیع الله راشد او یو زیات شمیر عالمانو طالبانو مجاهدینو قومي مشرانو او سپین ږیرو او شاغرانو ګډون کړی ؤ . په دې غونډه کې یو زیات شمیر عالمانو په وار سره په ټولنیز ژوندانه کې ددیني علومو دزده کړې داهمیت او ارزښت او دقران عظیم الشان دحفظ او تلاوت د دنیوي او اخروي ښیګڼو په باب خبرې وکړې .

وروسته دقران عظیم الشان د اتلسو تنو حافظانو او ددغې مدرسې د دریو تنو علماي کرامو دفضلیت پګړۍ وتړل شوې .

دیوبل خبر له مخې

دلوګر ولایت ددوشنبې دکلي دحضرت بلال د دارالحفاظ دقرآن عظیم الشان دلسو تنو حافظانو دفضیلت پګړۍ وتړل شوې .

په هغې غونډه کې چې له همدې امله دعالمانو دمدرسو دطالب العلمانو امارتي مسولینو او دلوګر ولایت دګڼ شمیر خلکو په ګډون دلوګر ولایت د دوشنبې دکلي دحضرت بلال په دارالحفاظ کې جوړه شوې وه دلوګر والي محترم مولوي ضیا الرحمن مدني دابتدائیه محکمې رئیس محترم مولوي لالاجان دپوهنې ریاست مرستیال محترم مولوي میرحسن او ددغه ولایت یو شمیر امارتي مسولینو دقرآن مجید دحفظ او تلاوت د فضلیتونو او ددین اوخلکو په وړاندې دکرامو حافظانو دمسولیتونو په باب خبرې وکړې . په پای کې ددغه دارالحفاظ دلسو تنو حافظانو دفضلیت پګړۍ وتړل شو .

په شفاخانه ...

انجمن دکتوران افغاني مقیم امریکا یك مقدار پول راجهت کمك به پرسونل وضرورت عاجل به شفاخانه اهدانموده که برای پرسونل شفاخانه توزیع گردید .اداره شفاخانه از همدردی انجمن مذکور اظهار سپاس مینماید .محترمه ستانکزی افزودندچون شفاخانه رابعه بلخی درسطح کشور یگانه مرکزصحی کمپلکس ومجهز است که درخدمت خواهران قراردارد و مریضان ابتدا به شعبه OPD شفاخانه مراجعه نموده معاینات مکمل آن ها توسط طبیبان مؤظف اجرا میگردد ، درصورتیکه مریض قابل بستر باشد شامل واردهای مربوط میشود درغیرآن ادویه لازمه برای شان توصیه میگردد ، بنأ بخاطر خدمت بیشتر به مریضان از هموطنان عزیز تقاضا داریم تامقررات شفاخانه را درنظر داشته خواهران یا بوازما میتوانند دروقت معین از مریضان خویش عیادت نمایند . دارنی

په کشتي کي ...

دکرسمس ټاپو ته نږدې دناروې په بېړۍ کې اوسېدونکي

شاغلی عثمان دنوي زېلاند او آرام سمندر ګې دنیرو ډاپوله لوري دپناغوښتونکو دمنلو دوړاندیز هرکلی کړی دی پناه غوښتونکو کې ډېری افغانان دي .

دپناه غوښتونکو په کړه کښته وشي او وبه ګورو چې څومره یې رښتینې لګړولا دي دڅرګندونه ده چې څومره کړېږ وال به نوي زېلاند اوڅومره به دنیرو ټاپوته ولیږي دناروې دبار وړونکې بېړۍ څښتن وایي چې بېړۍ ددامې سفر لپاره مناسبه نده په یوه بل پرمختګ کې په استرالیا کې محکمې باعدالت امرکړېدی چې حکومت نشي کولای چې پناه غوښتونکې له هغه ځایه څخه وخوځوي استرالیا وایي چې دبهرنیو چارو وزیر یه په راتلونکې اونۍ کې داندونیزیا پلازمېنې جاکارتا ته ځي چې دخلکو دقاچاق دمخنوي په اړه خبرې وکړي ټاکل شوې ده چې دې په دخپل اندونیزیایي سیال سره ووینې .ا-د

دسعودي عربستان ...

سزاګانو ملاتړ کړی دی . ولس مشر خاتمي په یوه لوی مذهبي مشر باندې نیوکه وکړه چې د جمعې په ورځ یې په خپلو خبرو کې په ټولنه کې د ننظم نسق په را وستلو کې د سعودي عربستان حکومت او په افغانستان کې د طالبانو د شرعي سزاګانو د کارول وستایل .ا-هـ

صهیونیستي اعمال ...

شویدي چې تر غونډې د مخه د ترټولو سخره بیزو موضوعګانو څخه یوه ده . د کیوبا ولس مشر فیدرل کاسترو د تاوان د ورکولو په کلکه ملاتړ کړی او وې ویل چې افریقایانو او یا د هغوی اولادونو ته باید هغسي تاوان ورکول شي لکه څنګه چې په اروپا کې د هلوکاست د یهودي قربانیانو ته په دې وروستیو وختونو کې ورکړل شویدي . خو د نایجریا او سینګال د ولس مشرانو وویل چې د پیسو د ورکولو تاوان به مناسب نه وي که چیرې د هغو خلکو اولادونه چې نیکه ګانو یې غلامان ساتلي ؤ د هغوی په استازیتوب د زړه له کومې بخښنه وغواړي .

د نایجریا ولس مشر وویل چې د تیوتو د رغیدو مهمه برخه ربښتنې پښیماني ده . دغه راز په کنفرانس کې د فلسطین دخلکو په وړاندې د صهیونیستي یرغلګرو وحشیانه عملونه وغندل شول .ا-هـ

تاحال هیچ کس ...

باختر که شوهر دومی مرحومه بود درزمینه چنین خبر میدهد :

انگیزه قتل کریمه مبین یکی اززنان مهاجر افغان که نیمه شب چهارشنبه هفته گذشته درمنطقه حیات آباد پشاور پاکستان اتفاق افتاد هیچگونه دخالت سیاسی نداشته وی بالاثر منازعات قبلی فامیلی مورد سوقصد قرارگرفته است .چنانچه وی دوسال قبل نیز درشهر مزارشریف مورد سوقصد قرارگرفته بود مگر بااین تفاوت که درآنجا جان به سلامت برد تاحال کس مسؤلیت قتل را به عهده نگرفته است.

ددرملو او ...

دباختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ .

دوقا دانساني مرستو موسسې ددغې موسسې دمرستي دوه ځلوېښت قلمه درمل او طبي لوازم چې مکروسکوپونه ، فوټو متر او له ۲٤ کارټنو درملو سره بشپړ لابراتوارونه یکې دي دلوړو زده کړو وزارت په روغتیایي کلینیک کې داستفادې په مقصد ددغه وزارت معین محترم مولوي محمد مسلم حقاني ته وسپارل شول .

دیوبل خبر له مخې دغې موسسې دماشوم دروغتیا له روغتون سره دپورتابل دیوه اکسرې ماشین او سکشند شیپژو کوچنیو او ستړو ماشینونو مرسته وکړه چې دماشوم دروغتیا درئیس محترم مولوي روح الله لخوا په ګرم‌ږدانۍ سره ومنل شو .

سرپل ولایت ...

خبر راکړ دغه هیات چې دهیواد دشمال د سیمو په اړوند و ولایتونو کې دمهاجرینو دحالت دڅېړنې په مقصد دهیواد شمال سیمو ته تللی دی د سرپل له محترم والي سره په کتنه کې دخپل سفر د هدف په باره کې معلومات ورکړل او له مهاجرینو سره د مرستې په لاره کې یې تیاري څرګند کړ .

دسرپل محترم والي ددغه هیات دنیه اقدام له امله قدرداني وکړه او له مهاجرینو سره یې ددې ډاټو مرستو او همکارۍ غوښتنه وکړه .

دیو بل خبر له مخې ټاکل شوېده جاپاني هیات دمهاجرینو دحالت دسروې او څېړنې په مقصد ددغه ولایت کمپ هم وګوري په یو بل خبر کې ویل شویدي دسر پل ولایت په کمپ کې په یوزرو څلور سوه میشتو مهاجرو کورنیو باندې یوه اندازه خوراکي مواد وویشل شول .

په دغو مواد و کې یو زرو څلور سوه بوري غنم دیرش بوری دال نخود دیرش بوري بوره او شپیته دبلې غوړي شته چې دسرپل ولایت دمقام داستازو دسرپل ولایت په کمپ کې په یو زرو څلور سوه میشتو کورنیو باندې وویشل شویدي .

کشف سلاح ...

باختر خبرداد

دراثرسعی و تلاش منسوبین قوماندانی امنیه ولایت هرات یک دستگاه بی ام یک ویک ضرب توپ هشتادو پنج ملی متری درولسوالی انجیل ولایت هرات کشف وبدست آمد سلاحهای یادشده به قوماندانی امنیه ولایت هرات انتقال گردید

په نوره نړۍ کې

پېښې او بدلونونه

موزیم سیار سوریه درسویس

درسویس بزرگ ترین موزیم آثار باستانی سوریه درخارج ازان کشور را تاسیس وافتتاح کردند .

درین موزیم پنج صدو پنجاویك قطعه از آثار باستانی سوریه از قرن دوم میلادی غرض نمایش قرارگرفته است درین موزیم چند تابوت سنگی ومجسمه های از تمدن سوریایی که نشانگر نوع لباس وآرایش ولوازم‌زینتی طلایی آن عصر و زمان میباشد نیز به نظرمی خورد این موزیم بعداً کانادا و ازآن جا به ایالات متحده امریکا منتقل می شود و درهرکشور شش ماه برگزارمی شود. هوکار

کشف مار و طاؤس قاچاقی

چند سیاح کانادایی که وارد لندن شدند چنکه درمیدان هوایی پولیس گمرك بیک های شانرا تلاشی کرد دودانه ماریك طاوس را که درطبقه زیرین بکس سفری جابجا نموده بودند کشف وضبط نمود ند وضمن تحقیق یکی از سیاحین به پولیس گفته است آنهارا به یکی از کشور های آسیایی تحفه می بردند ولی پولیس نظر به اینکه ورود وصدو رخزنده گان وطیور از طریق میدان های هوایی انگلیسی جواز رسمی ندارد ، آن دورا به باغ وحش فرستاد و قاچاقبران را جریمه نقدی کردند

شاگرد

مردعنکبوتی فرانسوی

یك مرد فرانسوی که خودرا مرد عنکبوتی نامیده است به برج سیله که درشهر شیکاگو واقع درایالات متحده امریکا بناشده است بالاشد این برج یك هزار وپنج صد فت ارتفاع دارد ولن داوی فرانسوی بدون استفاده از وسایل محافظوی به این برج بالاشد واین درحالی بودکه صدهاتن از مردم درسرکهای اطراف برج نظاره گرکار حیرت انگیز وخطرناك او بودند این مرد فرانسوی جسور وبیباك توانست همه یکصد ودوطبقه این ساختمان را بپیماید وبرفراز بام برج سیله برسد.

گروهی از مامورین پولیس این مرد عنکبوتی را بلافاصله پس از رسیدن بالای برج دستگیر کردند چراکه او بدون اطلاع پولیس به این برج بالاشده بود.مرد عنکبوتی تاکنون سه آسمان خراش ازجمله امپایر ستیدوبرج ایفل بالارفته است . امین

سگ تعلیمی صاحبش راکشت

یك شکار چی که درمزرعه اش درفرانسه به سگ تعلیم استفاده ازتفنگ برای شکارنمودن حیوانات میداد مورد اصابت مرمی تنفگ تعلیمی توسط سگش قرارگرفت وجابجا هلاك شد شاهدان عینی گفتند این شکارچی فرانسوی هرروزدرمزرعه به سگ خود تمرین دویدن، فیرکردن وهنرهای دیگری را می آموختاند از قضاآنروز به عوض اینکه سك به لاشه حیوان مرده که درکنار شکارچی برای تمرین گذاشته شده بود ، فیرکند مرمی فیرشده به قلب صاحبش اصابت کرد و جان سپرد ،خانم فرانسوی بعدازانکه جسدشوهرش را به شفاخانه انتقال دادند ، سگ تعلیمی را به موترش انداخت وباخودبه‌خانه اش برد . غنی

امور اداري ...

محترم رئیس عمومی کاروامور اجتماعي ملاقات نمود .

آژانس اطلاعاتی باختر خبرداد .

محترم مولوی عبدالغیاث قانع رئیس عمومی کار وامور اجتماعی که درراس یک هیأت عازم سمت شمال کشور گردیده طی ملاقات با محترم والی کندز پیرامون اهداف سفر شان معلومات داده و بخاطر بهبود امور اداری بحث وتبادل نظر نمودند طبق یک خبر دیگرهیات اعزامی وزارت امر بالمعروف ونهی عن المنکر وارد ولایت کندز گردیده وضمن ملاقات بامحترم والی آن ولایت اجراات اداره امر بالمعروف ونهی عن المنکر درآن ولایت را تحت غور قرار داده وجهت تسریع انسجام بهتر امور مربوط به مسوولین آن اداره رهنمایی های لازم نمودند .

SHARIAT DAILY
Published by:
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor:Mawlwi. Assadullah.Haidari
Editor :M.Abrahim.Nabil
Composed by:Ahmad Jawed .Faqeer.

توجه!
ایمان شما اجازه نخواهدداد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی حرمتی بگذارید